Stiftung Lesen

**د عکسونو او فلمونو د کارولو په اړه د رضایت اعلامیه**

د خپل لاسلیک سره رضایت ښکاره کوم چې د لوستلو بنسټ کارکوونکي زما او یا د هغو کم عمرو کسانو چې زه یې په قانوني لحاظ سرپرستي او پالنه کوم، **په**

نیټه

**د لاندی ذکر شوی ورکشاپ/سمینار په اړه مطبوعاتي غونډه کې**

**په**

موسسه، پته

کې اخیستل شوي عکسونه او ویډیویي فلمونه په لاندې رسنیو کې د لوستلو کلب په اړه د رپوټ جوړوني لپاره یا په میډیا لابراتوارونو کې، د بي ام بي اف «کلتور سړی پیاوړی کوي او د تعلیم لپاره پیوستون» د پروګرام په ترڅ کې او همدا راز د دغې پروژی سره د ټولو ښکېلو شریکانو (د معارف او څېړنو د فدرالي وزارت، د دی ال آر د پروژې موسسه) عامه اړیکو لپاره د نشر او خبریدو اجازه لری.

## د شخص په اړه معلومات:

**نوم، د ماشوم نوم**

- ◯ **په دې سره رضایت ښکاره کوم چې په پورته ذکر شوې غونډه کې اخیستل شوي عکسونه او فلمونه دی د لوستلو بنسټ له لوری او د پورته ذکر شوو د پروژې د شریکانو له لوري په چاپي بڼه (لکه په جریدو، فلایرونو، پلاکټونو، کاري رپوټونو)، په انټرنټ کې (لکه په ویبپاڼو کې، د ټولنیزو رسنیو په پلیټ فارمونو کې) او په اینټرانټ او نورو رسنیو کې (لکه تلویزیون، ورځپاڼو، مجلو، انټرنټي نمایشو کی او د عامه خدماتو د رسنیو په ټولنیزو چېنلونو کې) وکارول شي.**

زه خپل دغه رضایت هر وخت په بشپړ یا قسمي ډول لغوه کولای شم. لغو کول یوازې د راتلونکي له پاره اعتبار لري. چاپي او ډیجیټل میډیا چې ترمخه تولید شوې دی د بیا چاپیدو پورې د رضایت د لغوی څخه مستثنا دی.

د لغوی غوښتنلیک باید لاندې مرجع ته وړاندې شي:*Stiftung Lesen, Römerwall 40, 55131 Mainz*.

زه په دې پوهیږم چې دغه رضایت په داوطلبه توګه ورکوم او هیڅ راز منفي پایلې به ونلري که زه موافقت ښکاره نه کړم. ما د رضایت له دغه اعلام سره مل معلومات د نظره تېر کړي دي او په دی پوهیږم چې دغه شخصي عکسونه او فلمونه د کوم هدف لپاره کارول کیږي.

..................................................................................................

ځای + د عکسونو/فلمونو د اخیستلو نیټه، لاسلیک

..................................................................................................

د کم عمرو یا تر سرپرستی لاندې کسانو له پاره د سرپرست یا پالونکي لاسلیک

Kultur macht STARK
Bündnisse für Bildung
GEFÖRDERT VOM
Bundesministerium für Bildung und Forschung

Stiftung Lesen

## په انټرنټ کې د شخص په اړه د معلوماتو، عکسونو او فلمونو د خپرولو په هکله معلومات

لطفاً دې ته متوجه اوسئ چې په ویبپاڼو او ټولنیزو شبکو کې د دی موادو په پام کې نیول شوی کارول په دی معنی دی چې دغو معلوماتو او عکسونو ته په نړیواله سطحه د لاسرسی یا د دغو معلوماتو یا عکسونو د کټلو امکان شته. دغه موادو ته لاسرسی کېدای شي په داسې هېوادونو کی هم صورت ومومی چې د معلوماتو د خوندیتوب معیارونه په کې هیڅ نشته یا کافي نه دی. د لوستلو بنسټ دغو معلوماتو ته پر لاسرسي او انټرنټ کې پر استعمال هیڅ اغیز نلری او له دې کبله د معلوماتو د خوندیتوب د رعایت کولو ضمانت هم نه شي کولای.

په انټرنټ کی د شخص په اړه معلومات د مناسبو لټون ماشینونو په مرسته موندل کېدای شی او په عکسونه کې د شته کسانو د پېژندل کیدو امکان هم شته. له دې امله کیدای شی چې په انټرنټ کې د نورو موجود معلوماتو په واسطه د دغو ارقامو او معلوماتو په یو ځای کولو سره د خلکو شخصي پروفایلونه جوړ او د نورو مقاصدو، لکه د اعلانونو لپاره، ور ځخه ګټه واخیستل شی. د رضایت د لغو کیدو په صورت کی او زمونږ د ویبپاڼی څخه ستاسو د معلوماتو او عکسونو د لری کولو سرسره او په ټوله نړۍ کی د نورو مراجعو او یا کسانو لخوا د معلوماتو د کټلو او د ذخیره کولو د امکان له امله، د نورو مراجعو یا کسانو لخوا د دی موادو د نوری استفادې امکان یا د لټون ماشینونو د آرشیف څخه د استفادې امکان نشی کولای چې د منځه لاړ شی.

### نور معلوماتي مکلفیتونه د EU-DS-GVO د ۱۳ مادی مطابق (اروپایي د معلوماتو د خوندیتوب اساسی مقررات)

د معلوماتو د خوندیتوب دا خبرتیا، تاسو ته به د هغه اهدافو په اړه معلومات درکړي چې څنګه د لوستلو بنسټ ( چی د دی نه وروسته «موږ» یا «زمونږ» نومول کیږی) ستاسو شخصي معلومات پروسس کوي. شخصي معلومات ټول هغه معلومات دي چې ستاسو شخص پورې اړه لري. دغه لاندې معلومات به تاسو سره مرسته وکړي چې تاسی ستاسو د شخصی معلوماتو پروسس کېدو باندی پوه شئ او په دی توګه شفافیت منځ ته راشی.

د چمتو شوی عکسونه او فلمونه او همدا راز په دغو موادو کې د راغلو کسانو کورنۍ نومونو او نومونو څخه په رضایت اعلامیې کی ذکرشوو رسنیو کی د کتاب د نړیوالې ورځې په هکله د رپوټ جوړولو لپاره او همداسی د بنسټ او د پروژی د نورو شریکانو (دلته: د آلمان د کتاب سوداګریزه اتحادیه، دویچه پست DHL ګروپ، obj مطبعه، ZDF تلویزیون) د عامه اړیکو د کار لپاره استفاده کیږی.

د پورته ذکر شوي موخو لپاره، دغه د رضایت اعلامیه ستاسو د شخصي معلوماتو د پروسس کولو قانوني اساس ده. تاسو په خپله خوښه رضایت ورکوئ. دا په دې معنی ده چې تاسو مجبور نه یاست چې موږ ته خپل شخصي معلومات په اختیار کی راکړئ. په هغه صورت کې چې تاسو نه غواړئ د رضایت اعلامیه مونږ ته راکړئ، موږ په څرګنده توګه وایو چې دا به ستاسې له پاره هیڅ ډول زیان ونلري.

په اُتومات یا خپلسري توګه هیڅ نوع داسې پرېکړه، چې یوازې په اُتومات پروسس او ارزونې ولاړه وي، په شمول د پروفایل جوړونه او یا حقوقي تاثیرات درلودنه، چی تاثیر يې تاسی ته متوجه وي، نه کیږي.

چمتو شوي عکسونه او فلمونه به تر هغه وخته وساتل شي چې د لوستلو بنسټ د دوی په کارولو کې قانوني لیوالتیا ولري یا تر هغه پورې چې اړوند کسان د دی موادو د کارولو سره مخالفت وکړي. د رضایت لغوه کول د راتلونکي لپاره اعتبار لری. چاپي او ډیجیټل میډیا چې ترمخه تولید شوې دی د بیا چاپیدو پوری د رضایت د لغوی څخه مستثنا دی.

Kultur macht STARK Bündnisse für Bildung
GEFÖRDERT VOM Bundesministerium für Bildung und Forschung

سریره پر دی، د دغو موادو حذف یا پاکول هغه وخت صورت نیسی چی د معلوماتو د خوندیتوب اساسی مقرراتو د ۱۷ مادی ۱ بند شرایط موجود وی او کوم بل قانونی د ساتلو مکلفیت د دی په وړاندی موجود نه وی.

د اروپايي ټولنې د معلوماتو د خونديتوب د اساسي مقرراتو له مخې تاسو زموږ په وړاندې لاندې حقوقو اعاده کولای شئ:

- د معلوماتو ورکولو حق
- د اصلاح حق
- د پروسس کولو د محدویت حق
- د پاکولو حق
- د معلوماتو د لیږد حق

تاسو دا حق هم لرئ چی هر وخت مو غوښتی وی دا رضایت لغو کړئ. د رضایت د لغوی کولو سره د هغو استفاده شوو موادو قانونیت نه اغېزمن کيږي چې د رضایت د لغوی تر مهاله پورې پروسس شوي وي.

د پورته ذکر شوو حقوقو د اعاده کولو لپاره، تاسو کولای شئ هر وخت له موږ سره اړیکه ونیسئ: اندریا بارتل، تجاری رئیسه، رویمر وال 40، 55131 مانیځ، د ایمیل andrea.bartl@stiftunglesen.de له لاری.

که تاسو په دې نظر یاست چې موږ ستاسو شخصي معلومات په نامطلوبه ډول پروسس کوو، نو لطفاً زموږ د معلوماتو د خونديتوب د مسئول سره په تماس کې شئ. هغه سره په لاندې ډول اړیکه نیولای شئ SPIE شرکت، ښاغلی داکتر انتون پویزر، لیونرشتراسی ۹، ۵۰۵۲۸ فرانکفورت ام ماین

تاسو همدا راز حق لرئ چې د معلوماتو د خونديتوب د څار له ادارو سره تماس ونیسئ. مسئوله څار اداره دغه ده راینلاند فالتڅ آیالت د معلوماتو د خونديتوب او آزادی آیالتی مسئول اداره، پست‌بکس ۴۰ ۳۰، ۵۵۰۲۰ ماینځ